مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالعزیز نایبي

۲۰۲۵/۱۰/۰۹

# د کاکړیو غاړو لنډ جاج

کاکړۍ غاړې زموږ د ولسي ادبیاتو یو خوږ او په زړه پورې صنف دی چې د لنډیو په څېر د خپل ایجاد له پیل څخه په شفاهي ډول له یو نسل څخه بل ته لېږدول شوي دي. د لېږد په دغو پړاونو کې چې کتابت ډېر عام نه و، ممکن ډېرې ضایع شوي وي. د کاکړیو غاړو د انتقال په پروسه کې محلي سندرغاړو هم ونډه لرلې ده چې تر نن پورې د خوښیو په محفلونو، مجلسونو او اتنونو کې ویل کېږي. په ولسونو کې د سواد د نسبي عامېدو په نتیجه کې یوه زیاته برخه کاکړۍ راټولې او خوندي شوي دي. زموږ ادبپوهانو او څېړونکو هم په خپل وار د دغې معنوي پانګې د ساتنې او پالنې لهپاره کار کړی دی.

«کاکړۍ غاړې په لومړي ځل په ۱۳۳۴ لمریز کال په (پښتني سندرې) نومي کتاب کې د نورو ولسي ژانرونو تر څنګ د شین خالو ناړې او د کاکړو غاړې تر سرلیک لاندې چاپ شوي دي. وروسته یو څه کاکړۍ غاړې صاحبزاده بهایي جان راغونډې کړې دي. تر دوی راوروسته په لومړي ځل په ۱۹۶۷م کال کې په کتابي بڼه صاحبزاده حمیدالله د (کاکړۍ لنډۍ) په نامه چاپ کړې چې بیا راوروسته دوه کتابه لومړی ۱۹۶۹م کال (غاړې)، دوهم په ۱۹۷۳م کال کې د (کاکړۍ) په نامه د پروفیسر سیال کاکړ کتابونه چاپ شول. همدا رنګه بیا تر دوی ۱۳ کاله وروسته په ۱۹۹۵م کال کې د سید خیر محمد عارف کتاب (د غاړو ادبي څېړنه) په نامه چاپ شو. او بیا په ۲۰۰۶م کال کې د پروفیسر سیال کاکړ یو بل کتاب د (پخوانۍ غاړې) په نامه چاپ شو چې ټولې کړې غاړې پکې راغونډې شوي دي.»(۱)

د ازادي راډیو د «ژوند په شیبو کې» راډیویي خپرونه کې چې د ۱۳۹۴ کال د غبرګولي په ۶ نیټه خپره شوې ده، د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي استاد پوهنمل اجمل ښکلي د کاکړیو غاړو په باب وایي:

«کاکړۍ غاړې د پښتنو رواني اړخ ته ډېرې نېږدې دي. کله چې موږ ډېر احساساتي یو، لکه په خوشحالۍ یا خفګان کې، نو لنډۍ-لنډۍ خبرې کوو. کاکړۍ غاړې هم ډېرې لنډۍ ادا کېږي، لکه څوک چې په چا پسې غږ کوي او همدا موضوع د دغه ولسي ژانر مهم اړخ ګڼل کېدای شي. په کاکړیو غاړو کې د نورو ولسي ژانرونو په څېر د پښتنو د فکر ډول، د هغوی ژوند او محرومیتونو انعکاس موندلی دی.»

د ولسي ادبیاتو دا خوږ صنف راز- راز موضوعات، د پښتنو ټولنیز ژوند، اقتصادي شرایط، کلتوري پابندۍ، دیني او عقیده یي مسایل، ساده ولسي افکار، ټوکې‌ټکالې او د پښتني کلتور بېلابېل اړخونه، خویونه او رواجونه په خپله لنډه غېږه کې رانغاړي. که څه هم کاکړۍ غاړې کاکړو ته منسوب شوي دي او له همدې کبله په کاکړیو غاړو باندې مشهوري دي، خو په پښتنو کې به داسې قبیله نه وي چې د دې غاړو په جوړولو کې یې لږه یا ډېره ونډه نه وي اخیستې.(۲)

«دا ډول سندرې د کاکړیو، کاکړیو لنډیو او کاکړیو غاړو په نامه بللې شوې او یادې شوې دي. دا سندرې هم لکه لنډۍ دوې مسرۍ لري، چې دا دواړې مسرۍ زیاتره سره هم قافیه او د هیجایي سیستم له پلوه سره برابرې دي؛ دا په دې مانا چې د ټولو کاکړیو مسرۍ اته او یا اووه سیلابه وي، ځینې داسې کاکړۍ هم شته چې مسرۍ یې سره هم قافیه نه دي. کاکړۍ هم د هر ډول مفاهیمو بیان ته وقف شوې او د پښتنو د ژوند بېلابېل اړخونه پکې منعکس شوي دي.
د کاکړیو د ایجاد سیمه د بلوچستان د کاکړستان سیمې دي او ویونکي یې د نورو شفاهي سندرو په څېر معلوم نه دي او د کاکړو ونډه یې په ایجاد کې درنه ده. اما د دې سیمې ځینو ادیبانو هم د کاکړیو په ویلو کې طبع ازمایلې ده او



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ډېرې کاکړۍ يې جوړې کړې دي، خو د دغه ډول کاکړيو خوند رنګ د هغو طبيعي او په ولس کې ايجاد شويو کاکړيو په څېر نه دی .
د بلوچستان ځينو خواخوږو پښتنو لکه صاحبزاده حميدالله او پروفيسور سيال کاکړ د دغو سندرو نمونې له خلکو راټولې کړې او د دې سندرو مجموعې يې چاپ ته اماده کړې او چاپ کړې دي.

د دغو ثبت شويو کاکړيو له مطالعې سرې د کاکړو د اجتماعي، اقتصادي او حتی سياسي، ملي ژوندانه د څېړلو لپاره د خوند مواد ترلاسه کولای شي.»(۳)

ليکنه د دغه ولسي ژانر د څو بېلګو په راوړلو سره پای ته رسوم، دا تاسي او دا هم څو کاکړۍ غاړې:

**زه مرغه ګرانه بلبله**
**ځو به دواړه تر کابله**

**له کابله تر ژوبکه**
**سپينه خوله اخله نازکه**

**چې خبره په زارۍ شي**
**اور دې پورې په يارۍ شي**

**ورته ووايه چې راسي**
**ما يې غم له کاره باسي**

**ګرده شپه وهم سوچونه**
**مړ به سم ستا له بېلتونه**

**ړنګ پيکی په مخه راسي**
**زړه ژوندی له سينې باسي**

**سور تيکری څې راښکاره سي**
**له ما ګرنج بېلچه ايله سي**

**زړه مې وشليد په سينه کې**
**خنديدله په کوټه کې**

**يو کال کېږي چې واده ده**
**لا تراوسه مې په زړه ده**

**پرې ترلې مې چې زړه و**
**ګران هغسې سرې نه و**

**غېږه ورکړمه و چاته**
**مور به ژوند سوه له ما پاته**

**صدقه به يې ستا تر سر کړم**
**وايه څوک، څوک مرور کړم**

**زما په زړه لمبې د ګران دي**
**مُلايان وايي پېريان دي**

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ږغ په ورو، خندا په سپکه
دېوال غوږ لري نازکه

مونږ کوم سوچ مې په تا کې
خدای په څومره سزا راکې

يوه دا ده يوه بله
زړونه باسي له کوګله

له دې کوره تګ اسان دی
په ما نوم د بابا ګران دی

زه ګیلې درته کومه
ته رُخصت غواړې چې ځمه

که ورځې نو اجازه ده
درته خلاصه دروازه ده

کور خالي ده زه یواځې
که رازې دروازې وازې

چې ریبار یې را واپس کړ
زړه مې ښه په ژړا یخ کړ

خوښ مې نه شولې سرزوره
خوله دې واخیسته په زوره

ستا بیلتون د دوبي لمر دی
زما په سترګو برابر دی

یو د ګران خوله دې ایله وای
نور دې ګرد عُمر روژه وای

سپین ځیګر، تنې دې خلاصې
له ایمانه سېرې باسي

خوله مې ستا په بل حرامه
خپل سبق وایه جانانه

د مُلا تعویذ بېکاره
خپل همت کوه ریباره

که یې حال وایم غیبت دی
ګنې ګران راملامت دی

دا خو ستا مهرباني ده
راته اور چې زندګي ده

پر ما اور دې کړله مځکه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

**ته خوشحال ګرځه نازکه**

**زما او ستا یاري په ستورو**
**هر ماښام به ورته ګورو**

**بې تعلیمه دی لالی**
**که نه وای خط به یي رالیږلی**

**وچوي د زړګي وینه**
**تر ناسور سخته ستا مینه**

**ستا په څو خبرو تور سوم**
**اوس د ټول کلي پیغور سوم**

**درپسي مې لاړې ساوې**
**راته پاتې دي ارواوې**

**ته دي ناز کوه نازکې**
**له مورِ تولي لاړي ورکې**

**کاکړۍ غاړي کومه**
**د یار غم غلطومه**

**سرچیني:**


۱ -ژړک، محمد صادق. کاکړۍ غاړې، لاهور: پښتو ادبي غورځنګ - کوټه، کال...،۱۵-۱۶ مخونه.
۲ -ازادی راديو. (۱۳۹۴، د غبرګولي ۶). ژوند په شیبو کې: «د پښتنو شفاهي ادبیاتو خوږ صنف کاکړۍ»(راډیویي خپرونه).
https://pa.azadiradio.com/a/27039225.html

۳- هیوادمل، زلمی. د پښتو ادبیاتو تاریخ. د دانش خپرندويي ټولنې تخنیکي څانګه،۱۳۷۹ لمریز کال، ۷ مخ.





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولـئ